# کندهار

چاپ 1

دکندهار ښاردسفر او
سیاحت هر اړخیز لارښود



Ketabton.com

ترتیب اوراټولونه: شمس الله «شاداب»
لارښود استاد: موسی جان «زاهد»

تاریخ: 22/03/1401

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکتاب پیژندنه

دکتاب نوم: دکندهار لاربنود

لیکوال: شمس الله شاداب

پوښتیی او ډیزان: خپله لیکوال

اول چاپ: ۱۴۰۱ل.

چاپ لړ:

چآپ شمیره:

دچاپ او کاپي ټوله حقوق يي دليکوال سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


سریزه---------------------------------------------------------------------------------- 1

دکندهار جغرافیايي موقیعت او خلور خواوي ---------------------------------------------------- 3

دکندهارغرونه --------------------------------------------------------------------------- 4

د کندهار اب او هوا ------------------------------------------------------------------------ 5

تفریحي ځایونه ---------------------------------------------------------------------------- 5

دکندهارتاریخچه --------------------------------------------------------------------------- 6

تاریخي وضعه ----------------------------------------------------------------------------- 6

دکندهارنومونه ----------------------------------------------------------------------------- 7

د کندهار یادگارونه ------------------------------------------------------------------------ 7

دکندهار تاریخي سیمي --------------------------------------------------------------------- 7

د کندهار اوسنی ښار 9

دکندهار اداري نظام ------------------------------------------------------------------------ 13

لومړي دښار ویش او (ناحیې) 13

دکندهارښاردمشهوروکڅو طبقه بندي اودځینومشهوروکوڅو نومونه---------------------------- 13

دکندهارعمومي وضعیت ---------------------------------------------------------------- 13

بشري او سیاسي وضعیت ---------------------------------------------------------------- 14

نفوس-------------------------------------------------------------------------------------- 14

کلتوري وضعه------------------------------------------------------------------------------ 15

اقتصادي وضعه ---------------------------------------------------------------------------- 15

۱-ارغنداب------------------------------------------------------------------------------- 15

دکندهارعمده زراعتي محصولات ----------------------------------------------------------- 16

صنعت ------------------------------------------------------------------------------------- 16

کانونه ------------------------------------------------------------------------------------- 16

پېازي لعل: --------------------------------------------------------------------------------- 16

طلا: ---------------------------------------------------------------------------------------- 17

بربښنا-------------------------------------------------------------------------------------- 17

پوهنه --------------------------------------------------------------------------------------- 17

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوړي زده کړي: ---------- 18
روغتيا ---------- 18
اقتصاد ---------- 18
نوري برخي ---------- 18
ترانسپورټ ---------- 18
د کندهار نړيوال هوايي ډګر ---------- 19
لنډه تاريخچه ---------- 19
اوسنی حالت ---------- 19
بنه او پرسونل ---------- 19
هغه کمپنۍ چي الوتني کوي ---------- 19
دوهم دکندهار ولايت ولسوالۍ ---------- 20
خلاصه ---------- 20
ماخذونه ---------- 21

(c) ketabton.com: The Digital Library





# سریزه

نحمده ونصلی علی رسوله النبی الکریم اما بعد فا اعوذبا لله من الشیطن الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم ط

ذٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَ ۛ فِيهِ ۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ۞

دا (د الله) کتاب دی، په ده کي هیڅ شک نشته، د پرهیزګارانو لپاره لار ښوونکی دی.

که څه هم دقران هدایت نه یوازي دانسانانو لپاره دی بلکې دعالم دټولو کایناتو لپاره دی او علماوو لیکلي دي چي هدایت ۳ درجې دی: ۱. درجه هدایت دټولو انسانانو لپاره بلکه دټولو حیواناتو اونورولپاره. ۲. درجه په مؤمنانو پوري خاص دی. ۳. درجه په مقربینو پوري خاص دی او بیا ددې درجې څه حد او انتهاء نسته. په قران کي په مختلفو ځایو بیلابیل هدایت راغلي، مګر دا هدایت خاص دی.

**نوپس**، که چیري دتاریخ ورقې واړو او سر ورښکاره کوو په تیره بیا اسلامي تاریخ، نوپس دې پایلې ته به ورسیږو چي الله عزوجل (ﷻ) دانسانانو داصلاح لپاره لارښود اشخاص او کتابونه راستلولی تر حق لاره په پیدا او ځان ورسوي، ښه مثال یي داسلام مبارک دین ورکولی سو، چي پیغمبر علیه السلام مبارک او پرده مبار باندي نازل کتاب قران عظیم الشان ددې داخري امت لپاره ددنیاوي ژوند بهترینه لارښود دي. چي پورتنی ایت شریف یي غوره دلیل دی.

دا چي په دې فاني نړی کي هرڅه وه یوه لارښود ته ضرورت لري او بې له لارښوده څخه ویوڅه ته رسیدل به دزیاتو نیمګړتیاوو سره مل وي. مثلاً: هره کمپنی چي یو څه تولیدوي بیا دهغه شي سره یوه لارښود پاڼه هم جوړوي او دهغه سره یي وروسته ایږدې چي ترڅو کارونکی/رانیوونکي یي په ښه ډول سره استعمال کي او دکومو مشکلاتو سره مخامخ نسي. داکه دهرشي کمپنی وي که دموټر، تلیفون..... نوپس که چیري تاسونورو بهرنیو هیوادو ته سفر کړې وي یا مطالعه مو پراخه وي تاسو داشی ښه درکولی سي، چي دوی دهر مربوطه سیمي او ښارونو لپاره لارښودنه لري چي دوي ورته په انګلیسي ورته (Travel Guide/Catalog/Brochure) وایي. کله چي تاسو دا ترلاسه کی بیا کولي سي چي دښار هرې برخې ته په آسانی سره ځان ورسوي، بغیر له کوم مشکل څخه. دلته یو بیت وراچول

بلاخره په الله عزوجل مو دا آرمان/هدف ته ورسولواو ددې موقع ددیر ځنډ څخه وروسته برابره سوه چي داسي یوڅه چي موږ به کله ښار کي ګرځیدو هروخت به مي په ذهن کي دا راګرځیدل چي دا ځای به چیر وي پلان، داکوم چوک، سیمه، بازاز، کتابتون، روغتون دی، څوناحیې او ولسوالی لري، ها ودا. کله چي پدې اړه دکتاب، یا یوبل څه اړوند مو پوښتنه وکړه، بیا ناهیلي سو او هیڅ شی به مو پید ا نه کړه. نوپس کله چي مو استاد ښاغلی موسی جان ذاهد دخپل ښار اړوند دیوه نوښت ګر نظر غوښتنه وګړه، ما خپل دځوکلونو ساتلی هدف چي غوښتل مي پیووخت کار ورباندي وکم اوځان ورته ورسوم چي کله میوورسره شریکی خوښ یي سواو قبول یي کی، دا یو داسي اثر دی چي نه یوائې ما ددې اړوند مشکلات درلودل بکلي(دکورنی غړو، ملګرو او دوستانو، همصنفیانو، او نورو نابلدو ښارته راغلو اشخاصو).

(c) ketabton.com: The Digital Library





نوڅه مو سرګرځوم، کندهار ولايت، د افغانستان په سويل کې پروت دی، چې ۵۴۸۴۴,۵ کيلومتره مربع مساحت لري. دغه ولايت د سمندر له سطحې څخه ۱۰۱۰ متره لوړوالی لري او مرکز يې هم کندهار ښار دی.

کندهار، له شمال پلوه له ارزګان، له سوېل او سوېل ختيځ لوري، د ډېورند کرښې ها غاړه له بلوچستان، له شمال ختيځ لوري له زابل او له لويديځ لوري له هلمند ولايت سره ګډه پوله لري.

د ځينو سرچينو د معلوماتو له مخې، کندهار ښار د سکندر مقدوني په وخت کې جوړ شوی، چې د کندهار نوم هم د هغه له نوم څخه اخيستل شوی دی. داسې هم ويل کيږي، چې کله د ګندهاره کډوال يادې سيمې ته کډه شول، له ځانه سره يې د ګندهاره نوم هم راوړ، چې بيا وروسته عربو هغه د قندهار په نوم ياد کړ.

په ياد ولايت کې پښتانه، بلوچ، تاجک او هزاره قومونه ژوند کوي.

**تاريخي ابدې**

1. شاهي ارګ؛
2. د احمدشاه بابا کلا؛
3. د احمدشاه بابا زيارت؛
4. د ميرويس نيکه زيارت: نوموړي په ۱۰۸۸ لمريز کال کې، د صفويانو څخه خپلواکی اعلان کړه.

پس دډيرو هڅو او ۳ هفتو کارکول څخه مووررسته دې هدف ته الحمدالله په فضل دالله عزوجج سره ځان ورسوی. داستاد ښاغلي موسی جان ذاهد دلارښونو او همکاری څخه نړی مننه، دکورنی له غړو، دوستانو او ملګروڅخه چي پدې برخه کي زموږ څخه څه ونه سپمول دالله عزوجل څخه ورته بې انتها اجرونه غواړو

**يوعاجزانه درخواست:** بنده ضعيف او ملګرو يي ترخپل بندګي وسعت او طاقته پوري پوره کوښښ کړی دی چي خطا که لفظي وي او که معنوی هغه اصلاح کړي او څو واره مو ټوله دکندهارښار لارښود ترنظره استلی دی خو بيا هم انسان فطرة او خلقة کمزوری دی که چيري تاسي ته خدانخواسته څه لفظي خطا يا معنوي خطا په نظر درته راغله چي ځيني وختونه دچاپ يا کمپيوټرزي سبب او مشکل دوجي پيښيږي اول بخښنه غواړو او دوهم نو دهغې داصلاح کوښښ وکړی او زموږ سره يي پر لاندي ليکل سوو شميرو باندي رابطه وکړی چي پاه آينده چاپ کي يي اصلاح کړو.

وسلام

ش. شاداب

(c) ketabton.com: The Digital Library





# کندهار

**د هېواد سهیل لوېدیځ ته پروت ولایت دی او د افغانستان د لویو تاریخي مرکزونو څخه شمېرل کېږي. کندهار ولایت ټولې ۱۷ ولسوالۍ لري چې عبارت دي له: سپین بولدک، پنجوایي، میوند، ژیړی، خاکریز، غورک، نیش، شاه ولي کوټ، میاه نشین، ارغستان، معروف، ښورابک، ریگ، تخته پول، دامان، ارغنداب او ډنډ. کندهار** (په دري: *قندهار*) د افغانستان دویم لوی ښار دي چې د افغانستان په جنوب کې د ارغنداو د رود په دره کې پروت دی. دغه ښار شاوخوا ۴۵۰،۳۰۰ نفوس لري. کندهار د افغانستان لومړۍ پلازمېنه او تر کابل وروسته کندهار د افغانستان تر ټولو لوي تجارتي مرکز دي. په دي ښار کې د شهیدانو چوک، مدد چوک، احمد ولي خان چوک، حضرت جي بابا، ښکاپر دروازه، ټک ټک بازار، غازي پارک، عینو مینې، برو بازار، هرات دروازې، رنگریزانو بازآر، چهل زینو، او ملا نقیب چوک په گډون یو شمېر ښکلې او تاریخی سیمي موجودي دي. کندهار کې یو نړیوال هوایي ډگر هم لري چې د کندهار نړیوال هوایي ډگر په نامه دی.

**د مندیگک تاریخي کیندنې د کندهار په ۲۰ کیلو مترۍ کې موقعیت لري، چې د لرغونپېژندنې له مخې د برنج او مفرغ په دورو پورې اړه لري. په همدې اساس له میلاده مخکې د ۱۰۰۰ او ۲۰۰۰ کلونو په منځ کې د سند، ایران او بین النهرین گرځندویانو او سېلانیانو دې تاریخي مرکز ته تگ راتگ کاوه. له هرات، باختر او سیستان څخه کوچیان هم په دې تاریخي لاره تېرېدل. دا حوزه په اوېستا کې د هراوارتي په نامه یاده شوې ده او د اراکوزیا د نوم یادونه هم د همدې ځای لپاره شوې ده. په لومړیو مرحلو کې دلته کرنیزه زمکې وې. کندهار هغه مهال ډېر شهرت ترلاسه کړ چې په ۱۷۴۷ ز کال کې احمد شاه درانی د افغانستان واکمن ومنل شو او کندهار یې د هېواد د پلازمېنې په توگه وټاکه. د ښار په مرکز کې د مېوند ودانۍ وجود لري، چې په ۱۸۷۱ ز کال جوړه شوې ده. خرقه شریفه له بخارا نه دې ښار ته د احمدشاه بابا په پېر کې راوړل شوې ده. د میروېس خان نیکه او احمدشاه بابا زیارتونه په همدې ښار کې دي او د کندهار چهل زینه یې د غره په لمنه کې ده چې تاریخي ارزښت لري او د چهل زینې د پایۍ په برخه کې د بابر شاه یادانښت په ډبره کې کیندل شوې دی. کندهار په ۱۷۰۸ز کال کې میروېس خان د خپل حکومت د مرکز په توگه وټاکه، هغه په کوکران کې موقعیت درلود چې له اوسني ښار څخه ډېر لرې نه دې. باید ووایو چې لوی سکندر اراکوزیا په کندهار کې د اسکندري په نوم یوه لویه کلکه پوځي او دفاعي کلا جوړه کړه چې د کندهار عظمت او حېثیت یې لا لوړ کړ.**

## دکندهار جغرافیایي موقیعت او ځلور خواوي

**کندهار دافغانستان دښـــــکلي او ښه موقیعت لرونکي ښار دی ،چي د جنوبي پښتونستان (کویټه) د ښار څخه ۱۲۵ میله او دچمن څخه ۷۲ میله په فاصله پروت دی .**

**کندهار د درو خواوو څخه غرونو احاطه کړي دی او دارغنداب سیند یی په شمال لویدیځ کي دغـــــــــرونو ترشابهیږي .**

**دکندهار ښاردبهر دسطحي څخه د(۶۰۰ـ۶۵۰) میتره پوري لوړ دی .**

**کندهار دختیځ طول البلد په ۶۴او ۶۸ درجو ،۱۸ او ۵۱ دقـیقو او ۱۲ ثانیو او دشمالي عرض البـــلد په ۲۹ او ۴۳ درجو ۱۲ او ۱۳ دقیقو او ۲۰ او ۲۵ ثانیو کي واقع د ی .**

**کندهار دافغانستان جنوب لویدځ خواته پروت دی چي شمال خواته یی ارزگان ، لــویدیځ ته یی هلمند ،ختیځ ته یی زابل او جنوب ته یی جنوبي پښتونستان پروت دی .**

**دکندهار حدود پخوا دفراه ، غزني ، جنوبي پښتونستان او دهرات تر ختیځو سیمو پوري رسیدل .**

**خو کله چی داداري ملحوظاتو په اساس زابل ، ارزوگان او هلمند ولایت ځني بیل سول نوساحه یی ډیره محدوده اوتنگه سوه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





مساحت یی(۴۷٦۷٦)کیلومتره مربع دی، (۴/۵)یعني (۵،۸۴)فیصده برخه یی هواره ځمکه ده ،(٦،٧٪)یی غرنۍ اونیمه غرنۍ اوپاته برخه یی نیمه غرنۍ اونوري برخې دي.

## دکندهارغرونه

دکندهارجیولوژیکي نقشې څرګندوي چې د مرکزي اوجنوبي افغانستان دغرونو اولوړو سطحووروستنۍ کښته برخه دلته رارسېدلې اوتربحیره عرب پوري رسیږي.
دکوه بابا اوپغمان دغره ځیني ښاخونه هم ترکندهاره رارسېدلی دی.
دسلیمان دغره مهیمی برخې دکواټ اوپښین د جنوب غرب څخه شروع کیږي اودافغانستان د منځني اوشمالي پښتونستان ترسیمو پوري رسیږي،چې دکندهاردجنوب څخه تیریږي اوپه بسیط تسلسل د بلوچستان خواته تللي دي، لوړې څوکې یې تخت سلیمان چې (۹۴۰)متره لوړ اوکسی غرچې(۳۷٦۰)متره لوړدی.
کندهارښارته نژدې غرونه چې دشمال لوېدیځ خواڅخه دنیمي دایرې په شکل تاوسویدي،دکویتول دڅوکې څخه داغرونه مخ پرلویدیځ بیرته ګرځي اودپنجوائی دغرونوسره یوځای کیږي ،چې څوکې یې ځانته نومونه لري لکه:مقصودشاه غر،فیل کوه غر،دخنیبري غر،دسرپوزې غر،دکوتل مورچې غر،دخواجه عمران غر،دباباغراونور....

## دکندهارسیندونه

دارغنداب سیند: ارغنداب سیند مرکزي غرونو(ګل کوه)اودناوردلوړې سطحې دجنوب لویدیځو لمنوڅخه سرچینه اخلي چې(۴۰۰۰۰۰) جریبه ځمکه خړوبوي.داسیندپه پیل کې دجنوب لویدیځ پلودجاغوري ختیځ خواته بهیږي اودختیځې برخې دخړوبولووروسته جنوب لویدیځ پلوته میلان پیداکوي اودزابل ولایت ته داخلیږي چې ددې ولایت دکاکړدسیمې ختیځې برخې اوددې ولایت دارغنداب دعلاقې شمالي برخې خړوبوي اووروسته بیا دکندهارولایت شمالي برخې ته ننوزي اوددهلې بندپه ابادسویدی،چې دارغنداب ولسوالي دنږدې شاوخواسیموکرنیزې ځمکې خړوبوي.
داسیند د دهلې د سیمې د جنوب او کندهار ښار او ارغنداب ولسوالي له شمال لوېدیځ او دپنجوائي په جنوب لوېدیځ پلو کې یو ځای کیږي اودبُست کلاپه جنوب کې هلمند سیند ته ورګډیږي.
ددغه سیند اوږدوالي (۴۱۳) کیلومترو پوري رسیږي، داسیند په (٦٦) درجو طول البلد او (۲۲) درجـــــو عرض البلد کښې واقع دئ دغه سیند زیات مرستیالان لري چې لوی ئې دادي:
۱- ترنک سیند: دا سیند دمقرد ولاړو اوبو څخه راځي دشاه جوی او زابل دسیمو څخه راتېریږي پـــــه کندهارکي دډوری سره ګډیږي،چې دهایدروګرافي منطقه یی(۱۰۷۰۰)ده.
۲- د لوړې سیند: دا سیند دافغانستان جنوب خواته واقع دی، چې دسلېمان د غره دګند او جبې څخه راوځي دپښین دسیمې څخه تیریږي اوختیځې لوري ته بهیږي. که څه هم دهلمند دسیند سره متصل ځي خو اوبه ئې هلمند ته نه رسیږي،څرنګه چې سطحه یې د ورځېرمه مځکو څخه کښته ده نو د اوبولګولو لپاره ښه استفاده نه څني کیږي، دغه سیند (۳۵۲) کیلومتره او ږدوالي او په کافي اندازه سور لري چې په (٦۵-٦٦) طول البلد کښې دکندهار دښورلوک په برخه کې څه سیمې اوبه کوي او د ریګستان په غدیر کښې تېریږي.
۳- د ارغسان سیند: دا سیند دارغستان او معروف له غرونو څخه راوزي او دنومړې سیمې شمالي برخې او به کوي،چې (۱۲۹) کیلومتره اوږدوالي لري ،پردغه سیند باندې یو پوخ پُل جوړ سوی دئ چې کندهار دجنوبي پښتونستان دچمن برخې سره موښلوي دهایدروګرافي منطقه ئې دلوړې سره (۱۴۵۰۰۰) ده.
۴- د کدنې سیند: دغه سیند دپښین دعلاقې څخه راوزي او مخ پرجنوب سپین بولدک ته نژدې بهیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





۵- د ډورۍ سیند: دپنجوائي ولسوالۍ لوېدیځي خواته بهیږي په باراني وختو کښې کافي اوبه لري دکال په نورو موسمو کښې ئې دپای خوا وچه او دسر خوا لږ اوبه لري.

دکندهارداوبوبندونه: کندهار (۳)درې بندونه لري (۱)ددهلې بند چې (۵۰)متره لوړوالي او(۵۳۰)متره اوږدوالي لري یومیلون جریبه فتیه داوبوظرفیت لري،ذخیروي رقبه یې(۳۵۳۰۰)جریبه اودجهیل اوږدوالي یې(۱۸)کیلومتره دي،پلنوالي یې(۲)کیلومتره دی.

دبند دتونل اوږدوالي یې(۲۶۴)کیلو متره اوشعاع یې(۵،۴)متره ده اودسنګ پرانۍ مجموعه یې(۱۲۰۷۶)متره مکعبه ده.دابند دکجکي څخه په دوهمه درجه کي قرارلري ،چي (۳۶۰۰۰)جریبه ځمکه اوبولای سي.

## د کندهار اب او هوا



کندهار د استوایي اقلیم لرونکې دی، سویل خواته یې د شوابک او سري شګې د دښتو موجودیت ددې ولایت ځانګړتیاوې صحرایي او نیمه صحرایي ته اړولي دي. په کومو ځایونو کې چې شین غر او کافرجر غرونه موقعیت لري او د ارغنداب سیند یې له لاندنیو سویلي برخو نه تېرېږي، هوا یې معتدله کړې، او د ډنډ، پنجوایي، مېوند، ارغنداب او د شګې ولسوالۍ د ښې او زړه راکښونکې هوا لرونکې دي. پورته یادې شوې ولسوالۍ په پسرلي او اوړي کې ښه مرطوبه هوا لري، ژمی یې نسبتا معتدل او دوبی یې تود وي. د دوبي په تودو میاشتو کې د تودوخې لوړه درجه ۳۰ سانتي ګرېډه او منځنۍ درجه یې ۱۹سانتي ګرېډه او د تودوخې ټیټه درجه یې ۵ سانتي ګرېډو ته رابښکته کېږي . د کلني اورښت اندازه یې له ۳۰۰-۲۰۰ ملي مترو پورې ټاکل شوې. خو په شګلنو سیمو کې له ۸۰ ملي مترو څخه کم وي.

## تفریحي ځایونه

په کندهار د ځوانانو د پاره د تفریح او میلو کولو ځایونه سته، چې د هله او په ځانګړي ډول د ارغنداب په ولسوالۍ کې د بابا ولي صاحب تفریحي او روحاني مزار یادولای سو، چې هره ورځ او په ځانګړي ډول د جمعې په ورځو کې په زرګونو خلک د زیارت کولو او تفریح کولو دپاره ورته راځي. د یادوني وړ ده چې د نورو ولایتونو او ګاونډي هیواد پاکستان څخه زیات خلک ورته د ننداري د پاره راځي. ددي تر څنګ د باغ پل پارک او طبعي منظره په ډنډ ولسوالۍ کې د محمدابراهیم خلیفه بابا مزار، د ګل اغا شیرزي پلار حاجي بابا تفریح ځای، په ډنډ ولسوالۍ کې ډورۍ، په خاکریز ولسوالۍ کې د شامقصود اغا مشهوره په شااغا مزار، په ارغنداب ولسوالۍ کې سرکاري باغ، په ارغنداب ولسوالۍ کې د سربند پله تفریح ځای، په دامان ولسوالۍ کې د اخوند صاحب مزار او په کندهار ښار کې غازي پارک، د میرویس نیکه زیارت، د عینو مېنې نوی ښارګوټی، د شهیدانو چوک، د غازي محمدایوب خان لوبغالی، احمدشاهي ورزشي لوبغالی، څلوېښت غرزیني (چل زینه) او زوړ زوړ ښار یادونه کیدلای سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## دکندهارتاریخچه

هغه وخت چې سکندراراکوزیا ته ورسیدي نو دخپل عادت اودسیمی دښه موقعیت له مخي یی یوه نظامي کلادالکزاندریه په نوم په اراکوزیا کي اباده کړه.

بُست ښار چې دکندهارښاراهمیت یی ترخپلو وړانګولاندي راوستلي وو،کله چې دسوري علاوالدین لخوا له منځه ولاړي نوکندهار دښه موقعیت له مخي داراکوزیا دپایتخت په توګه وټاکل سو. کندهار دلومړی ځل لپاره دسلطان حسین بایقراپه وخت کي دسکيې وهلومرکزسو.اوپه ۹۶۸ ه ق کال کي واک بابرته په لاس ورغلي،دبابر څخه وروسته کندهاراوکابل دواړه دکامران په لاس ورغلل. کندهار دمیرویس خان تراتلو پوري دصفویانو په لاس کي وو، میرویس خان کندهار اونور ولایتونه دصفویانوله لاسه خلاص کړل اودښاربنسټ یی هلته کیښود.

په۱۱۴۹ ه ل کال کي نادرشاه اصفهان پریښود اوکندهارته راغي اوپه خپله نظامي چونۍ کي یی دنادراباد په نامه  یوه نظامي کلاجوړه  کړه.دنادرافشارترمړیني وروسته دپاچاهۍ واک احمدشاه بابا ته ورسیدي.

دنادراباد کلا چې نظامي بڼه یی درلوده اودبلي خواپرنمناکه سیمه جوړه سوېوه ،دلوي احمدشاه بابا دامپراطورۍ دپایتخت لپاره مناسبه نه وه ،نوځکه یی  د (۱۱۶۹) ه ق دربیع الثانی په لومړی ورځ داحمدشاهي کندهار دتاداب ډبره کیښودل سوه اوکندهاردپایتخت حیثیت خپل کړ.کله چې احمدشاه بابا وفات سو اوتیمورشاه دچارو واګي په لاس کي ونیولې اوپایتخت یی دکندهارڅخه کابل ته انتقال کړ.

## تاریخی وضعه

دکندهار وجه تسمیه: دکندهار دوجهي تسمې په اړه بیلا بیل نظریات موجوددي.

۱- ځیني مورخین پدې نظردي چې دکندهارنوم دګدروسیا (کندهاروسیا) په نوم پردغه ځای موجــــودوو.

۲- ځیني مورخین یی منشا الکزاندربولي.

۳- ځیني مورخین پدې نظردي چې کله دکندهارااوسیدونکي دغه ځمکي ته راغــلل نودعه نوم یی له ځانه سره راوړي،چې وروسته عربو قندهار ځني جوړکړ.

۴-(هیرودوتس) دګندهارا داوسیدونکود(۴) قبیلوڅخه دلومړي قبیلې یادونه کوي چې دګندهاري یاکندهاري په نوم دتاریخ په ټولودوروکي یاده سوېده.

۵-په اویستا کي دګندهارا (ګنـــــدوفار) په نوم یو پــــــهلوان چې د یوخپلواکه کهول باچا وو او دارغنداب په حوزه کی یی یو ښار هم په خپل نامه جوړ کړي وو . او په ۱۹میلادی  پیړی کي باچا سو .

(c) ketabton.com: The Digital Library





# دکندهارنومونه

1. دکندهار لرغوي نوم ( هره، هوای، تي ، ) يا هره ويتي دی.
2. يونانيانواراخزيا،اراکوزيااواراکوسيا نوم ځني جــــــوړکړ.
3. دساسانيانو،کيداريانواوکابلشاهانو درخج،رخچ اورخذ په نوم سره يادکړيدی.
4. دعربوپه راتگ سره داراخوسيا ښخه الرخج اوالرخذ جوړسو.
5. دغــــــزنويانوپه زمانه کي دتکين اباد په نوم سره يادسويدی.
6. سيفي يی په (تاريخ نامه هرات) کي دمعرب شکل(قندهار)يادونه کوي.

# د کندهار يادگارونه

د کندهار زوړ ښار چې د کندهار په مرکز کې دي د زړي کلا په واسطه چاپيرسوي وه چې په دغه کلا کې شپږ دراوزې لري. د زوړ ښار په مرکز کې زوړ بازار پروت دي. سلطان بابر په ١٦ پيړي کې د خپل بريالیتوب په یاد د چل زينې معبد په سرپوزي کې جوړ کړ.د کندهار يو ډېر مقدس ځاي د خرقې شريف زيارت دي چې په هغه کې د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم جامې پرتې دي. او دهغه څنگ چې د احمد شاه بابا مقبره پرته ده. همداراز د کندهار د کوهکران په سيمه کې د ميرويس هوتک د مقبرې لرغوني وداني وجود لري. په ١٩٩٩ کال کي د ملا عمر په هدايت يو جومات چې دجامعه عمر په نوم يادېږي جوړه شوه.

# دکندهار تاريخي سيمي

### دکندهار ښارونه

- اراکوزيا: - دغه ښاردمقدوني سکندرلخوا(٢٣٠٠)کاله مخکي د(اراکوزي سکندريه) په نامه په(٣٢٩)ق م کي جوړسوي وو، چي اوس يی هيڅ نښي نښانې ندي پاته، اراخـوسيا په پــــــخوانيو وختوکي دارغسان سيمي ته ويل کيده اوکله چي اراخوسيانوخپل مرکزدارغسان څخه وکدروسيا(کندهار)ته نقل کړنود ارغند ناوه داراخوسيا په نامه وبلل سوه.

٢ ـد اشوکا کتيبه

د اشوکا کتيبه له هغو لرغونو آثارو څخه ده، چي د کندهار د زاړه ښار له دروازې سره پر يوه لويه ډبره کېندل سوې او په ١٣٣٧ ش کال کي کشف سوې ده. د دې ډبري اوږدوالی (٥٥) او پسور يې (٤٥ – ٥٠) سانتي متره دئ. دا ډبرليک په يوناني او آرامي ليک کښل سوی دئ، چي برنۍ ديارلس کرښي يې په يوناني او لاندنۍ اووه نيمي کرښي يې په آرامي خط ليکل سوي دي. دا ډبرليک هغه وخت کيندل سوی و، چي بودايي دين د (اشوکا) په وسيله د کندهار سيمو ته رسول سوی و او د ليک تاريخ يې (٢٥٠) کاله تر ميلاد وړاندي دئ. د ډبرليک ژبه يوناني او پخوانۍ پښتو (پرثوي) ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library





### زوړ کندهار



دکندهار دزوړ ښار کلا چي دنادر شاه لخوا دهغه په حکومت کي خرب ويجاړ سو.

دوهم ښار د سرپوزي د غره ختيځي خوا ته پروت و، دا سيمه اوس د (زاړه ښار) په نامه يادېږي، چي د ارگ مخروبه وداني (نارنج مانۍ) يې اوس هم کنډواله پاته ده. د (زاړه کندهار) يادونه څه دپاسه زر کاله تر مخه د غزنوي دربار شاعر منوچهري داسي کړي ده: سيصد هزار شهر کنی، به زقيروان سيصد هزار باغ کنی، به ز قندهار دا ښار د افشار نادر تر تاړاکه لا ودان و او کله چي نوموړي د (۱۱۵۰ هـ ق) په سر کي د هوتکو ملي حکومت ړنگ کړ، ورسره سم يې د کندهار زوړ ښار په بشپړه توگه وران کړ.

### نادرآباد

دريم ښار د (نادرآباد) په نامه يوه نظامي کلا وه، چي په ۱۱۵۰ هـ ق کي د نادر افشار له خوا جوړه سوې وه. [۳] . افشار نادر د کندهار د زاړه ښار د کلابندۍ په دوران کي د اوسني کندهار جنوب ته د شيرسرخ زيارت په شاوخوا کي يو ښار جوړ کړ، چي د (تاريخ احمدشاهی) په استناد يوه محقره کره وړه کلا وه او پراخوالی يې د پخواني ښار له څلرمي برخي سره برابر نه و. لوی احمدشاه بابا د خپلي تاجپوشۍ مراسم د همدې کلا تر څنگ د شير سرخ بابا په زيارت کي سر

### ۳ .چل زيني ( څلويښت غرزيني)

د چل زيني غر په ۱۸۸۱ کال کی

چل زينه د زاړه کندهار شمال ته د غره په ډډه کي يو دالان دئ، چي **دغره**



له بېخه زينې ور ختلي دي. دالان او زينې دواړه د غره په ډبره کي د اوسپني په قلم کيندل سوي دي. پخوا د دالان دواړو خواوو ته د ډبري دوه زمريان هم پراته وه، چي اوس نسته. د پوزې پر سر باندي ښارغالی هم و، چي وروسته نور کار پر سوی و. چل زينه د بابر پاچا د زوی (عسکري ميرزا) لخوا جوړه سوې ده، چي د ودانېدو کار يې په (۹۳۰ هـ ق) کي شروع او په (۹۵۳ هـ ق) کي پای ته رسېدلی دئ. د چل زينو د دالان د نستعليق خط د نوشتې او تذهيب کار د ميرمعصوم کندهاري لخوا تر سره سوی دئ. د زينو يوې او بلي خوا ته کنگرې شاه امان الله خان ور جوړ کړې. دغه په حساب سره پوره دروڅلوېښت زينې دي.

### ۴ .ارگ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ورسول او د سلطنت تر لسم کال پوري په همدې ښار (کلا) کي اوسېدی، چي بیا یې د نوي ښار د جوړېدو چاري پیل کړې.

## د کندهار اوسنی ښار

لوی احمدشاه بابا د خپل سلطنت له لومړیو وختو څخه په دې فکر کي و، چي د هېواد د پایتخت په توګه د کندهار نوی ښار جوړ کي، ځکه د نادرآباد نظامي کلا له یوې خوا دونه پراخه نه وه، چي د یوې لویې امپراتورۍ د پایتخت لپاره دې مناسبه او موزونه وي او له بلې خوا یې موقعیت هم پر یوه داسې سیمه و، چي ډېره نمناکه وه، ځکه یې نو تر ډېرو سلا او مشورو او لیدنو کتنو وروسته د کندهار د اوسني ښار سیمه غوره وبلله او د (۱۱٦۹ هـ ق) د ربیع الثانی په لومړۍ ورځ د احمدشاهي کندهار د تاداو ډېره کښېښوولې سوه. دغه ښار د اشرف البلاد په صفت ونومول سو او د درانۍ امپراتورۍ د یوه لرغوني پایتخت او مرکز په څېر یې حیثیت پیدا کړ. دغه ښار د تاریخ په اوږدو کي د مختلفو داخلي او خارجي مورخینو او سیاحانو په لیکنو او اثارو کي ذکر سوی دئ او د دغه تاریخي ښار پر لرغونتوب، قدامت او معمارۍ یې لیکني کړي دي. دغه ښار په لومړي سر کي پر څلورو ناحیو مشتمل و، چي په منځ کي یې یو پوښلی چارسو هم درلود، چي د کندهاري لرغوني معمارۍ استازیتوب یې کاوه. په معاصر دور کي دغه ښار د ښاروالۍ د تشکیلاتو له مخي ډېر پراخ سوی او تقریباً مساحت یې لسو ناحیو ته رسېدلی دئ.

## د کندهار لرغوني آبدات



د ارګ غونډه ماڼۍ د احمدشاه بابا د زمانې ده او د ده اداري شاهي مرکز و، چي مخي ته یې څلور چمنان درلودل. د ارګ په نامه دغه ماڼۍ د احمدشاهي کندهار شمال ته پرته وه، چي د نونسمي میلادي پېړۍ تر پایه پوري لا په هماغه لومړني شکل ولاړه وه، خو د ارګ اوسنۍ ودانۍ د سراجي عصر له ودانیو څخه ده، چي د سراج الملة والدین امیرحبیب الله خان په حکم د سردار محمدعثمان خان والي په وخت کي جوړه سوې ده. پخوا په دې ودانۍ کي د ولایت پر مقام سربېره د کندهار زیاتره دولتي اداري واقع وې. د ودانۍ شمالي او جنوبي لور ته تعمیرونه جوړ سوي وه، چي په منځ کي یې لوی غولی دئ.


### ۵ ـ احمدشاهي کلا

د کندهار احمدشاهي ښار د مستطیل په شکل و او پر شاوخوا باندي یې یوه کلا را تاوه سوې وه. دې کلا شپږ دروازې درلودې (کابل دروازه، ښکارپر دروازه، هرات دروازه، عیدګاه دروازه، توپخانې دروازه او برو دروازه). دغه هره دروازه له پنډو – پنډو تختو څخه جوړه سوې وه او ایرېې اینښوول سوي وې. احمدشاهي کلا پر سل – سل متره باندي یو وتلی برج درلود، چي له دغه وتلي برج څخه د کلا دباندي ساحه او د کلا بېخ څارل کېدې. د هر برج پر سر باندي د توپ ویشتلو لپاره یوه خالصه برخه وه او د هرو دوو برجو تر منځ د باران د اوبو د وتلو لپاره پنځه – پنځه ناوې جوړي سوي وې. د کلا وروستی ترمیم د امیر حبیب الله خان په پاچهۍ کي هغه وخت سر ته ورسېدی، چي سردار محمدعثمان خان د کندهار د نایب الحکومه په توګه د دغه ښار مقتدر واکمن و. (د کندهار مقدس اماکن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ .منډیگک



دا غونډۍ ۳۱ متره لوړه ده. په حقیقت کې د غونډۍ دغه لوړوالی د هغو سر پر سر جوړو سوو ودانیو څخه را منځته سوی دئ، چي د زمانې پېښو زړونه کلونه تر مخه په خپل – خپل وار نړولي او د غونډۍ شکل یې غوره کړی دئ. دا غونډۍ له دوو زرو کلونو راهیسي متروکه او د ورانی په حال کي پرته ده. د منډیگک د لومړنۍ ودانۍ چي عمر یې (۹۰۰۰) کاله کېږي د انسان د لاس ډېري لومړنۍ نخښې لکه، ځیني تورل سوي ډبري او د ځارویو تېره سوي هډوکي دي، چي لا نور څه نه دي ځني تر لاسه سوي. خو له دې لومړي پوړ څخه تر پنځلسم پوړ پوري د دې غونډۍ د بېلابېلو اوسېدونکو د ژوند بشپړتیایي ګامونه را څرګندېږي، چي وروستی پوړ یې له ژېړو څخه جوړ سوي لوښي هم لري.

- دزاړه ښاردقیتول دغره کتیبې : په (۱۰۰۵) ه ق کال کي جوړي ســویدی چي پکښي دباباحسن ابدال دخوریی سیدحسن زنجیر یا سلسله ترحضرت علي (رض) پوري رسولــې وه .
- دمیرویس خان نیکه کور: د (۱۱۱۹-۱۲۲۷) ه ق کال پوری جوړسویدی .
- دلوی احمدشاه باباکور او احمدشاهي کلا : په (۱۱٦۹)ه ق کال کي جوړسویده .
- دکندهار سرپوښ بازار : د(۱۲۴۵-۱۲۵۴)ه ق کال پوري او دوهمه پلا د(۱۲۵۸- ۱۲۷۱) ه ق کاله پوري جرړسویدی.
- دمنزل باغ وداني : په (۱۳۰۰)ه ق کال کي دامیرعبدالرحمن خان په عصر کي جوړسویدی.
- شمشیرغار: چي پکښي دکوشاني دورې اثارموندل سویدی ،ویل کیږي چي احمدعلي کــهزاده (۱۹۳۰) م کال کي دموسیون هاګن سره تللي اوترکندنووروسته یی دغه اثار موندلي دی .
- دمیوند دشهیدانو خلی: چي (۸۵)کاله دمخه په نادري دوره کي جوړه سویده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کندهار زیارتونه او جامعې

موی مبارك، شاه مقصودآغا، بابا ولي، حضرت جي بابا، جمال بابا، شين غزی اصحابي، دارو نیکه، پیر ملا محمدجان اخوند، صابرشاه ملنگ، میرویس هوتک، احمد شاه درانی، زرغونه انا، ملالی، شېرسرخ، ملاشېراخند، سپين کوځی بابا، صوفي صاحب، اخوند صاحب، ابراهیم خلیفه بابا، د میوندشهیدانو ځلورلارې، میا نورمحمد صاحب مزار، خوجك بابا، ملاکټه اخوند، ملا اکا، ملا عبدالحق اخوند، شیخ قلندر، ملا حسن ساکزی، کاکو بابا، بګت بابا، پیر زالو بابا، ملا صالح محمد اخوند، ډنګربابا، کابلي شاه، پیر زنګي بابا، کاکو بابا، کوټ بابا، زنجیر پا، خواجه ملک، جان لالا، شیخ قلندر، یک خاک شهیدان، د شنو ګومبتو زیارت او داسي نور.




د خرقې شریفي زیارت او جامع مسجد.



بابا ولي زیارت

د دې جامع او د خرقې مبارکي د نوي ودانۍ تاداو د سدوزي تېمورشاه په پاچهي کي په کال (۱۱۸٦ هـ ق) کي کښېښوول سو او د (۱۱۹۰ هـ ق) د روژې د میاشتي په لومړۍ نېټه يې کار بشپړ او مبارکه خرقه يې ورته را نقل کړه. د جامع په ودانۍ کي د وخت په تېرېدو سره بدلونونه راغلي دي، خو د سردرا محمدعثمان خان په وخت کي خاص بدلون پکښي راوستل سو، خو دا اوسنۍ بڼه يې د مرحوم محمدظاهرشاه په پاچهي کي راغلې ده. البته ځيني قبرونه او کورونه ونړول سول او د خرقې مبارکي غولی پراخ کړه سو.[۴] . د خرقې شریفي د زیارت نقاشی د امیر حبیب الله خان په پاچهي کي د امیر د ورور سردار نصرالله خان په هڅه د صوفي عبدالحمید بارکزي په هنرمندو ګوتو سر ته رسېدلي دي. د زیارت د شاوخوا کاشي خښتو کار يوه پلا د وزیرمحمدګل خان په وخت کي چي د کندهار والي و او بیا د عبدالغفور خان په مشرتابه سره



1975حاجي میرویس خان نیکه زیارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



بشپړ سوی دئ. کاشي ښښتي حاجي خیرمحمد کُلال ور جوړولې. دغه راز په
کندهار کي دغه نور مقدس اماکن او د ستانه وو



1968 د ستر امپراتور احمد شاه بابا زیارت

دباباحسن ابدال قبراو ډېرلیک : دشارخ بن تیموردماندیني گوهرشاه په حکم د(۸۰۷-۸۵۰)ه ق پـوري جوړه سوېده.

٦-دشاه مقصود (علیه رحمه)دقبروداني : په (۹۵۵) ه ق کال کي دجهانـــگیرپه دوره کي میرمعـصوم جوړکړیدی چي وروسته په(۱۰۵۵)ه ق کال کي دصفوي شاصفي ځای پرجوړکړ

۱۰- دشیرقلندر مسجد او کوټه : دمیرمعصوم لخواد جورسړویدی .

۱۱- دزرغونې انا دقبروداني : (۲٦۲) کاله دمخه په احمدشاهي دوره کي جوړه سویده.

۱۲- دمیانورمحمد دقبروداني : تقریبان (۲۵۹) کاله دمخه دده دیوموريد لخوا جوړه سوې وه .

۱۳- دکندهار زړه جامع : په بخارايي سبک دسزيښناکوختو اوگچوڅخه په (۱۱۷۲)ه ق کال کي جوړه سویده .

۱۴- داحمدشاه بابامقبره : په (۱۱۷۴)ه ق کال کي دده په ژوندکي جوړه سویده .

۱۵- دمیرهزار جامع : د(۱۱۸٦- ۱۲۰۷)ه ق کال کي دپوځي سالار میرهزار الکوزي لخوا جـــــوړه سویده .

۱٦- دخرقې شریفي وداني : په (۱۱۹۷) ه ق کال کي کندهارته راوړل سوه وروسته ددغه وداني کارپیل سو او دتیمرشاه دواکمنۍ پرمهال تکمیل سو.

۱۷ د-شیرسرخ دقبر وداني: چې دتیمور دزوی کامران دموږپه لاربښودنه په (۱۲۲۱)ه ق کال کي جوړه سویده

۲۰- دمیروس خان نیکه مقبره : په (۱۳۱۱)ه ق کال کي جوړه سویده .

۲۱- دشهیدانوځلی: په (۱۳۲۷)ه ق کالي کي جوړه سویده .

۲۲- دموی مبارکي وداني: چي تقریبان ۱۲۹ مخکي دامیرعبدالـــرحمـــــن خـــان په واکمني کي دسردارمحمدعثمان خان نایب الحکمه لخوا جوړه سویده .

۲۵- دسپین بولدک دشهیدانو مقبرې: په (۱۹۱۹م) کال کي دازادي جگړې پرمهال جوړه سویده .

دکندهارمقدس اماکن: لکه خرقه شریفه ،موی مبارک،شاه مقصودآغا،باباولي،حضرت جي بابا،جمال بابا،شین غزي اصحابي،میرویس نیکه،احمدشاه بابا،زرغونه انا،ملالۍ ،ابراهیم خلیفه بابا اوداسي نور....

دکندهارمشاهر: لـــــوی احمدشــــاه بابا ، مـــــیرویس نیکه،زرغـــونه انا،ملاله میوندی،میرمعصوم کندهاری،عبدالشکور رشاد،مولوی احمد کندهاری،علامه عبدالحق کندهاری،عبدالله محزون اونور....

(c) ketabton.com: The Digital Library





# دکندهار اداري نظام

## ➢ لومړي دښار ویش او (ناحیې)

دکندهارنوی ښاراصلاً دمحمدعثمان خان نائب الحکمه (دامیرحبیب الله خان دسلطنت دوره ) په وخت کښې شروع سوی دئ بیا ورسته په (۱۳۱۴ه ل )کال کي سردارمحمدداؤد چي د کندهارنائب الحکومه ودهرات دروازې دباندي ئې دکندهار دنوي ښاراساس کښېښود او ورپسې دعبدالغني خان ګردېزي دنائب الحکومه ګی په وخت (۱۳۳۰ه ل)کال کي ډیرپراخ سواوېلي جادې په کښې وکښل سوې چي دمشهوروجادونومونه ئې دادي : ظاهرشاهي واټ،نادرشاهي واټ،احمدشاهي واټ،حاجي میرویس خان نیکه واټ، دپښتونستان واټ، ایوب خان واټ ،دشهیدانوواټ اونور.

د کندهار ښار پخوا ۷ ناحیې درلودلي، په معاصر وخت کي دغه ښار دښاروالي دتښکیلاتوله مخي ډیر پراخ سویدي چي ۱۵ ناحیوته رسېدلي دی.

## دکندهارښاردمشهوروکڅو طبقه بندي اودځینومشهوروکوڅو نومونه

۱-دقومونودنومو په اساس:دنورزوکوڅه ،دسدوزوکوڅه ،دالکوزوکوڅه،دسیدانوکوڅه اونوري....

۲-دقومي مشرانواولویانونودنومونوپه اساس:غفارخان کوڅه ،یحی خان کوڅه ،شیرعلي خان کوڅه اونوري ....

۳-دمشایخواوعلماؤدنومونوپه اساس: ملانعمان کوڅه ،ملاکوڅه ،اختري متاري کوڅه اونوري کوڅي....

۴-دمتبرکوځایونودنوموپه اساس:دخرقې مبارکي کوڅه ،دزړې جامې کوڅه اونوري کوڅې....

۵-دکسب وکاراوموقعیت دنومونو په اساس:دشاه قبرکوڅه ،کلافصیل کوڅه ،دبنایانوکوڅه اونوري کوڅي....

## دکندهارعمومي وضعیت

**په کندهارولایت کي امنیت:** په کندهار ولایت کي دګډوامنیتي ځواکونو(ملي اردو،ملي پولیس،سرحدي پولیس) دزیاتوهلوځلو اوقربانیوپه نتیجه کي دکندهارښاراوولسوالیوامنیت دولایت دمقام په وینا(۱۵) سلنه تاءمین شوي دی،چي مجموعاً (۱۳۰۴۵)تنه ملي پولیس په دندوبوخت دي،چي لدې جملې څخه یی(۳۰۷۰) تنه محلي پولیس دي.

په دغه ولایت کي دملي اوسیمه ییزوپولیسوترڅنګ ۲۰۵ اتل قل اردو او۵۰۳ سرحدي زون هم دکندهاردامنیت په تاءمینولوکي بوخت دي.

**په کندهارولایت کي حکومتوالي:** دحکومتولي په پلي کولوکي ډیري ډلي رول لري چي ترټولومهیم یی حکومت دی اوددې ترڅنګ په لیرو پرتو سیمو کي نوري ډلي هم شته چي په حکومتولي کي دخیلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په کندهارکي دولایت ددفترپه شمول(۵۰)دولتي اداري خپل خدمات عرضه کوي چي (۶۹۷۳)تنه یی دملکي خدمتونومامورین ددغوځخه(۵۹۷۴)تنه یی نارینه او(۹۹۹)تنه یی ښځینه دي.

په کندهارولایت کي ددولتي اداروترڅنګ ځیني کورنۍ اوبهرنۍ موسیسې هم شتون لري چي په بیلابیلوفعالیتونوکي برخه اخلي.

### مدني ټولني اوسیاسي ګوندونه:

لومړی مدني ټولني: مدني ټولني په حکومتي نظام کي دحساب ورکوني ،روڼتیا،دښه خدماتودوړاندي کولواوحکومت څخه دخلګودغوښتنو یوښه میکانیزم دي ،چي دخلګواوحکومت ترمنځ ښه روابط ټینګوي اوټولنه ښه رهبري کوي، کندهارولایت ټولټال (۳۹)مدني ټولني لري .

ځیني شبکې هم شته چي دکندهارد ماشومانود حقونولپاره کارکوي لکه:

۱- سپین : په کندهارښاراومختلیفوولسوالیوکی دماشومانودمختلیفوحقونولپاره کارکوي.

۲- سره میاشت :په کندهارولایت کی دهغه کوچنیانوچي زړونه یی سوري وي اویا بل داسي مشکل ولري چي په داخل کی یی درملنه ممکن نه وي خارج ته د درملني لپاره استوي.

۳- عدلیه /اصلاحي مرکز:په کندهارکي دبې سرپرسته اومجرمینو کوچنیانوساتنه کوي.

دوهم سیاسي ګوندونه: په کندهارکي دعدلیې ریاست دمعلوماتوله مخي(۱۸)سیاسي ګوندونه دعدلیې ریاست سره ثبت دي،خواوس یی شمیر(۲۰) ته رسیدلي دي.

## بشري او سیاسي وضعیت

### نفوس

د کندهار په ولا یت کي ټول ټال (۱۲۵۲۷۸۶) تنه وګړي ژوند کوي چي له هغې جملې څخه (۶۴۲۶۴۲) تنه ئي نارینه او (۶۱۰۱۴۴) تنه ئي ښځینه دي،په دغه ولا یت کې (۱۴۴۴۵) کورنۍ دي چي په اوسط دول هره کورنۍ (۷) غړي لري.

د کندهار په و لایت کې نږدې (۶۸) په سلو کې خلک په ولسوالیو او کلیو کې او (۳۲) سلنه ئې په ښار کی اوسیږي، له دوی څخه یې نږدې (۵۱) په سلو کې نارینه او (۴۹) په سلو کې ښځینه دي.

نژاد: په کندهار ولایت کي د دغه لاندي نژادونو لرونکي وګړي ژوند کوي: پښتانه،بلوڅ، تاجک، هزاره، هندو او نور... چي پښتانه ئي اکثریت دي.

ژبه: په (۹۸) سلنه کلیو کی خلک په پښتو خبري کوي. دری ژبه په (٦) کلیو کی (۴۰۰۰) ویونکي لري او پاتی (۹) کلیو کي خلک په نورو مختلفو ژبو خبري کوي.

د کندهار په و لایت کې کوچیان هم اوسیږي چې یو په سلو کې کوچیان د لنډ مهال د پاره او (۵۱) په سلو کې د اوږدې مودې د پاره له یو ځای څخه بل ځای ته کوچیږي.(۴۸) سلنه یی ځای پر ځای دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





دین: دکندهار تقریباً ټول وګړي د اسلام دمبارک دین پیروان دي چي اکثره ئې سوني مذهبه او یو کم اقلیت شعیه مذهبه زحمت کښ وګړي هم د دې ښار په توپخانه سیمه کې اوسیږي او ددې ترڅنګ په کم اقلیت کښې هندوان هم دکندهار په (ښکارپور) او (کابل بازار) کې اوسیږي او خپله عقیده پالي.

## کلتوري وضعه

د کندهار دیښتنو ریښه چي پښت پر پښت یوې آریایي قبیلې (پکهت) ته رسیږي د دوئ کلتور او ثقافت لکه ملي دودونه، ادبیات او هنر، کرهنه، مذهب، اقتصاد او داسي نور د ژوندانه خصوصیات ئې آریایي قبیلو ته ورته دي، نسل پر نسل ئې دخپلو پلرونو او نیکونو څخه دڅان سره راوړي دي.

د کندهار خلګ هم د نورو ولسونو په څېر ځان ته ځانګړي دودونه او عنعنات لري، چي له دې جملې څخه یو هم د کندهاري وګړو کالي دي، په کندهار ښار کې خلګ دکمیس او پرتوګ سر بېره صدرۍ هم اغوندي او دغه راز د نبوي سنت پر دود لنګۍ تړي، چي د کالو ډول بیا دهرکس په اقتصادي وضعه پوري تړاو لري

په کندهار کې د کوچیانو کالي د ځایي خلګو له دود سره لږ فرق لري، څرنګه چي کوچیان په ژمي کې په یخو سیمو کې ګرځي راګرځي نو دوی د ځان تودولو لپاره د کوسې په نوم یو ډول له وړیو څخه جوړ کالي اغوندي اوښځي یې ځان ته دکالیو ځانګړي ډول لري او لکه دښار او کلیو دښځو په څېر بوقره نه پر سر کوي.

په دې ولایت کې له پخوا راهیسې مختلفي لوبې تر سره کیږي چي له هغې جملې څخه توپ ډنډه، خوسی، مرغومکی، غیږ ایستل او اتڼ دیادولو وړ دي، البته اوس په کندهار کې د نورو هیوادونو په څېر د فوټ بال، کرکیټ، ځغاستې، والیبال او داسي نوري لوبې هم تر سره کیږي.

## اقتصادي وضعه

د کندهار په ولایت کې (۷۲۰۰۰) هکتاره ځمکه تر کرهنې لاندې ده چي (٦۰) سلنه ئې د دهلې له بند څخه اوبیږي.

دکندهاردکښت اوکرهنې مځکې پردوو برخوویشل کیږي:

### ۱-ارغنداب

په ارغنداب کې په عمومې ډول سردرختې اوونی کرل کیږي ،چې دځمکي حاصیلات یی انار ،شکرپاره ،بهي ،آمرت،شلیل ،زردالو،اونور داي.غنم ،اوربشي،اونوري داني هم لږپکښی کرل کیږي.

په کندهارکې دهغه ونوداراضی اندازه چې دمیوه لرونکوونوپه وسله پوښل سویده (۲۲۵۰۰)هکتاره ده.

دکندهار(۱۵)سلنه کلیواله خلګ دغیری زراعتي کارونو او(۸۵)سلنه کلیواله خلګ دزراعتي محصولاتو څخه خپل عاید ترلاسه.

### ۲-خوشکاوه

په خوشکاوه کې په عمومي ډول آنګوراو څه غنم او اوربشي پکښي کیږي.دغه سیمي ته ځکه خوشکاوه وایی چي ارغنداب اوبه لږورسیږي .

دکندهار خوشکاوه دکندهارښارجنوب خواته ده چي (۳۲)ډوله آنګورپکښی پیداکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په کندهارولایت کښي (۳۰۰۰۰)هکتاره للمي ځمکه شتون لري ،چي د(۲۰۰۰-۵۰۰۰)جريبه پوري ځمکه ترقانوني کښت لاندي راغلې ده.

په کندهارولايت کي په اوسط ډول(۴٦)سلنه کورنۍ ابي او(۱۷)سلنه کورنۍ للمي ځمکوته لاس رسی لري.

## دکندهارعمده زراعتي محصولات

لکه آنگور(۵۴)سلنه ،نور ميوه جات(۳۴)سلنه،غنم(۴)سلنه اوسبزيجات(۳)سلنه.

دکندهارويالي: دکندهارويالې عبارت دي ظاهرشاهي وياله، دپاتاووياله، روح اباد،شاه وياله ،ددخواجه ،پنجاب وياله ،دجی لاهور وياله،ميانجوی .

دارغنداب دسيند دشمالي خواويالې عبارت دي: کلک اوسلواغی ،پاشمول ،سنگسار،نهرکاريز،گډحل ،نلغام ،منار اوناگهان.

## دکندهارحيوانات

په کندهارکي ډول ،ډول اهلي او وحشي حيوانات اومرغان اوسيږي.

دکندهار(۵۵)سلنه کليواله ،(۹۱)سلنه کوچيان او(۱)سلنه ښاري کورني څاروي ساتي.

کندهارولايت (۴۰)حيواني کلينيکونه او(۱۳)دمصنوعي دالقاح مرکزونه لري چي په يوه مياشت کي (۳۰۰) غواوي القاح کوي .

کندهارولايت د مچيو(۱۳)فارمونه اويوه اتحاديه ،دچرگانو(۸۱)فارمونه اويوه اتحاديه اودوه مسلخه ،دماهيانو(۱۸۱)فارمونه اويوه اتحاديه لري.

## صنعت

د دې ولايت زياته اندازه شرکتونه او تر (۲۰۰) په شاوخوا کي فعالي او غيرفعالي فابريکې يوازي په صنعتي پارک کي د آيسا د دفتر سره ثبت دي، خو ددې ترځنگ شرکتونه او فابريکې د نورو دولتي ادارو سره هم ثبت دي، په کندهار ولايت کي اضافه تر (۳۰۰۰) شرکتونه د آيسا ساحوي دفتر سره ثبت دي چي په مختلفو برخو کي لکه: ساختماني، لوجيستيکي، صنعتي، زراعتي، تعليمي، ترانسپورتي، معلوماتي ټکنالوژي او روغتيائي او داسي نورو... کي کار کوي .

په صنعتي پارک کي شاوخوا (۴۰۰) کسان کار کوي. همدارنگه په کندهار کې لاسي صنايع په (۱۰) کليو کي توليديږي.

## کانونه

سپينه طلا: دغه طلا دکيمياوي تجزيي په اساس دسرپو اوجستوپه رگونوکي دخاکريزپه بي بي گوهره،چي دکندهاردمرکزڅخه په (۸۲)کيلومتري کي پرهغه سړک چي داستهسال ذخيره يي (٦۹۰۰۰) متره ده ٬چي (۴،۴) سلنه جست او(۷٬۸) سلنه سرپ لري.

دحاجي عالم داوسپني کان :دغه کان دکندهارولايت دمرکزشمالي په (۱۳۰) کيلومتري دنيش ولسوالی دحاجی عالم دکلي په ختيځ غره کي موندل سوي٬ چي دشمالي عرض البلد په ( ۲۳ ) درجو او( ۷ ) دقيقو او د شرقي طول البلدو په ( ۲۵ ) درجو او( ۳۳ ) دقيقو کښي واقع دئ. دجنسيت اومقداردنقطه نظره ډيرښه اولوړمقناطسي اوسپنه لري.

نوموړي کان دمرمرواوگرانيټ دډبري په برخه کي متشکل سوي دي٬چي ذخيره يي (٦۰۰)ميليونه ټنه اټکل سوې ده.

دمگنيتيت ددغه رگ اوږدوالي (٦۰۰)متره ،پلنوالي يی په اوسط ډول(۲۰)متره اوژوروالي يی(۳۰۰)متره دی.

په خاکريز کښي دحاجي توپ په دښت کي سته زرگران او هنرمندان ددغه لعل څخه غوږ والي، گوتمۍ، نگينونه، حتی سرميزي جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





دکندهار په شمال کښې د کان طلا نومي ځای څخه راکښل شوې ده همدارنګه دخاکریز په دره خار کښې موندل سوې ده، طلا دلته دکوتیس د ډبرو په منځ کې لیدل کیږي. دمسو ذخیرې دخاکریز په تور غره کښې موندل کیږي.

## برېښنا

دکندهار ولایت ته دکجکي د تولیدي فابریکې څخه چي په هلمند کې موقعیت لري تقریباً (۱۲) میګا واټه برېښنا رسیږي او د اوبو د موجودیت په صورت کې (۲۰۰) کیلو واټه برېښنا د بابا ولي د مکرو هایډل څخه په لاس راځي او همدارازد تیلو د موجودیت په صورت کې تقریباً (۳۵) میګاواټه برېښنا تولیدیږي.

ددې برېښنا څخه چي د کندهار په ولایت کې شتون لري د ارغنداب ولسوالۍ (۱۰) سلنه، د دامان ولسوالۍ (۹۰) سلنه، ژړۍ ولسوالۍ (۵) سلنه سپین بولدک ولسوالۍ (۳۰) سلنه، ډنډ ولسوالۍ (۹۰) سلنه او معیوبینو کارته (پنجوائي ولسوالي) (۲) سلنه ګټه پورته کوي او پاتي ټولې ساحي بريښنا نه لري.

په کندهار ولایت کې د موجوده برېښنا څخه (۶۰) سلنه انرژۍ د خلګو له خوا او پاته (۴۰) سلنه برېښنا د دولتي اداراتو له خوا په مصرف رسیږي.

په( ۱۳۹۳ )لمریز کال کې دولتي ادارو (۶۰۰۸۷۰۸)کیلو واټه برېښنا په مصرف رسولې ده. دکندهار دبرېښنا رياست دمعلوماتو له مخي کندهار ولایت په مجموعي ډول (۱۵۰) میګاواټه برېښنا ته ضرورت لري. په دې ولایت کې د برېښنا پنځه سټېشنونه وجود لري چي په لاندي جدول کې ذکرسوي دي:

**دريېمه ګڼه جدول: د کندهار ولایت د برېښنا سټېشنونو په هکله معلومات وړاندي کوي:**

| ګڼه | دسب سټېشن نوم | ظرفیت |
|---|---|---|
| ۱ | مرکزي د برېښنا کوت سب سټېشن | 80MWA |
| ۲ | دپاشمول سب سټېشن | 4MWA |
| ۳ | دښورآندام ډېزلي پاور پلانټ | 16MW |
| ۴ | دباغ پُل ډېزلي پاورپلانټ | 10MW |
| ۵ | د برېښنا کوټ **MTU**ډېزلي پاور پلانټ | 10.5MW |

## پوهنه

دکندهار ولایت د پوهنی رياست دمعلوماتو له مخي په دې ولایت کې ټول ټال (۵۳۸) رسمي او غیر رسمي ښوونیز مرکزونه شتون لري،اوله هغې جملې (۱۶۲) بابه ښوونځی چي د دولتي سکټور مربوط کیږي د ناامنیو په وجه تړلي دي. په دې ولایت کې (۲) دارالعلوم، (۲۲) دیني مدرسې او (۲) دارالحفاظه د دیني زده کړو په برخه کې شتون لري.

په دغه ولایت کې په ښاري سیمو کې (۸۰) سلنه ماشومانو انجنو او هلکانو ته د زده کړې زمينه برابره سوې ده.

په (۱۳۹۳ ه ل) کال کې په کندهار ولایت کې د دولتي سکټور اړوند ښوونیزو مراکزو ته (۳۰۳۶۹) تنه زده کوونکي شامل سوي وه چي له هغه جملې (۹۲۶۶) تنه ئې انجوني او پاته (۲۱۱۰۳) تنه ئې هلکان دي، دغه راز په همدغه کال دخصوصي سکټور اړوند ښوونيزو مراکزوته (۱۱۱۷)تنه زده کوونکي شامل سوي دي چي له هغې جملې (۲۳۸) تنه ئې انجوني او پاته (۸۶۹) تنه ئې هلکان وه چي د (۳۶۰۰) تنه (۲۷۱۰) تنه نارینه او (۸۹۰) تنه ښځينه ښوونکو له لوري ورته تدریس کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په ټول کندهار ولا یت کې د سواد کچه یوازې(١٦) فیصده ده.

په کندهار ولایت کې په (١٩٩١ م) کال کې یو دولتي پوهنتون فعاله سو چې یوازې دزراعت پوهنځی پکښې فعاله وه، دامهال په دغه پوهنتون کې( ١٢ ) پوهنځی فعالي دي او دلیسانس تر کچې پورې محصلین روزي او د (٢٦٢) تنه په شاوخوا کې استادان لري (نارینه ٢٥٨ او ښځینه ۴ تنه)، په (١٣٩۴ ه ل ) کال کې کندهار پوهنتون ته ټول ټال (٣٠٦١) تنه محصلین شامل سوي وه چې له هغه جملې څخه (٢٨٠٧) تنه ئې نارینه او (٢۵۴) تنه ئې ښځینه وه. البته داخبره دیادولو وړ ده چې په (١٣٩۴ ه ل) کال کې د کندهار پوهنتون دهیواد په سطحه د (کیفیت تضمین) په برخه کې لومړی مقام تر لاسه کړ.

دلوړو زده کړو په برخه کې په کندهار یوه بله لاسته راوړنه د افغانستان د کرنیزو علومو پوهنتون دئ، چې په (١٣٩٢ ه ل) کال کې افتتاح سوی دئ او اوس مهال پکښې د اګرانومي څانګې ماستري تدریس کیږي او ټول محصلین ئې (٢١) تنه دي. دغه راز په دې وروستیو کې په کندهار ولایت کې (۴) د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسې تاسیس سوي دي چې په بېلابیلو برخو کې محصلین روزي.

## روغتیا

په کندهار ولایت کې دروغتیائي مرکزونو ټوله شمېر(٨١) ته رسیږي. په دې و لایت کی یوازې (۵,٣)سلنه وګړی دروغتیایی مرکزونو او تقریباً نیمایی (۵٠)سلنه خلک باید له لسو کیلو مترو څخه ډ یر مزل وکړي چې صحي خدماتو ته لا س رسی پیدا کړي.

په دغه ولایت کې د زېږون پر مهال د هر سل زرو میندو له جملې څخه (١۴٣) تنه خپل ژوند له لاسه ورکوي.

په کندهار کې (٦۴) سلنه کورنۍ د صحی اوبو څښلو لویو منابعو ته لاس رسی لري، چې (٩٩)سلنه د کلیو او(۵٠)سلنه د ښار خلک پکښې شامل دي او له (٨٧)سلنه څخه زیاتي کورنۍ مستقیم لاس رسی اوبو ته لری، همدارنګه یوه له لسو کورنیو څخه مجبوره ده چې د اوبو راوړلو د پاره تر یو ساعت پورې مزل وکړي.تقریباً (٢٢)سلنه کورنۍ تشنابو ته لاس رسی لري ،حالت په ښاروکی ښه دئ ا و (٢٠ ) سلنه کورنۍ اساسی تشنابونه لري لاکن دا سلنه په کلیو کی (٧) تشکیلوی.

## اقتصاد

د کندهار د (٢٨) سلنه کورنیو عمده ګټه کرهڼه ده چې (٣٨) سلنه د کلیو کورنۍ او (٨) سلنه ښاری کورنۍ پکښی شاملي دي، په دغه ولا یت کې (٣٢)سلنه کلیوالې کورنۍ او(١٠)سلنه ښاری کورنۍ کرهنیزې ځمکې او یا باغونه لري او ګټه ترې اخلي، همدارنګه، له نیمې نه کمې (۴٣) سلنه ښاري کورنۍ او یو پر څلورمه کلیوالي کورنۍ خپل عاید له سوداګری نه لاس ته راوړي.

په (٨) سلنه کلیوالی کورنیو کی مالداري مروجه ده اودکندهار ولایت (٣٢) سلنه وګړي د فقر تر کرښې لاندي ژوند کوي.

## نوري برخي

ددغه ولایت (٩٠) سلنه ساحه د مخابراتي خدمتونو ترپوښښ لاندي راغلې ده او یوازې د ریګستان په ولسوالۍ کې مخابراتي خدمتونه نسته.

په کندهار ولایت کې د (١٢) رغیزو رسنیود فعالیت ترڅنګ دوې تصویري رسنۍ هم فعالیت کوي او دغه راز یو شمېر چاپي رسنۍ هم فعالیت کوي.

## ترانسپورټ

دترانسپورټ رباست دمعلوماتو پراساس په (١٣٩۴ ه ل) کال کې په کندهار ولایت کې دټکسي چلوونکو( ١٢)اتحادیې، د باروړونکو موټرو( ١۴ )اتحادیې،( ١٨) ترانسپورټي شرکتونه او د(٣١) په حدودو کې مسافروړونکي اتحادیې موجود وې او همداراز په دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولایت کي دځمکني ترانسپورټ ترڅنګ هوايي ترانسپورټ هم د یوه هوايي ډګر په لرلو سره فعالیت کوي چي هره ورځ یا په دوو ورځو کي مرکز کابل او نورو ولایتونو ته پروازونه کوي او په دې وروستیو کي د ترکیې هیواد ته د کندهار له هوايي ډګر څخه د پروازونو خبره هم سوې ده.

## د کندهار نړیوال هوايي ډګر

د کندهار ښار په سوېل ختیځ لور کې د کندهار ښار له مرکز څخه د ۱۶ کیلو متره په واټن کې پروت دی.

## لنډه تاریخچه

د کندهار هوايي ډګر د امریکايي مهندسینو لخوا په ۱۳۴۲ لمریزکال کي جوړسو. نوموړی میدان په منځنۍ آسیا کي یو له نړیوالو میدانونو څخه دئ، چي ځانګړی اعتبار لري او زموږ ملي هویت ته افتخار وربخښي. په ۱۳۵۳ لمریز کال کي دافغانستان هوايي ځواکونه هم په دې میدان کي ځای پرځای سول. په لومړیو کي دکندهار د ملکي هوايي میدان د آمریت پرسونل تقریباً ۱۲۰۰ نفرو ته رسېدی. د ډاکټر نجیب الله دواك په وخت کي د داخلي جګړو په وجه او پرهوايي میدان باندي د مخالفو ځواکونو له خوا د راکټونو د توغوني له امله ملکي الوتني په ټپه ولاړې وي. د طالبانو د واك پر مهال ملکي الوتني بېرته له سره پیل سوي او همدارنګه د عربو متحده اماراتو او هندوستان ته بین المللي پروازونه کېدل. د سپټېمبر د ۱۱ نیټي تر پېښي وروسته دکندهار هوايي میدان د جګړې په مرکز بدل سو، چي د جګړو په اثر د هوايي ډګر عمارتونه تخریب او د هوانوردۍ ټول تاسیسات له منځه ولاړل.

## اوسنی حالت

د مؤقت حکومت له دورې څخه بیا تر۱۳۸۴ کال پوري د USAID موسسې لخوا د هوايي ډګر د بیا رغوني کار جریان درلودی او د ۱۳۸۴ کال د مېزان په میاشت کي د هوايي میدان ترمینل او د هغه مربوط شعبات په فرنېچر او موبل تجهیز او د لومړنیو الوتنو وسایط هم د نوموړي مؤسسې په مرسته برابر سوه، د دې سره سره د مامورینوهستوګنځایونه بېله رغوني پاته سول. په ۱۳۸٦ کال کي د ولایت مقام د خاصي پاملرني او هڅو په نتیجه کي یو باب سالون د بهرنیو او داخلي مېلمنو لپاره د ټولوتجهیزاتو، موبل او فرنېچرسره ورغول سو. د ترمینل شاوخوا سړکونه په قیرورغول سول او د هوايي میدان پرسونل وستایل سوه
د کندهار د هوايي میدان د هوانوردۍ ملکیت ۱۰ زره جریبه ځمکه ده، چي د دې څخه یوازي ۱۰ جریبه یې د ملکي هوايي میدان په لاس کي ده او پاته نوره ټوله یې د ایساف ځواکونو، د ملي دفاع وزارت او داخلې وزارت ځواکونو تر خپلي ولکې لاندي ده.

## بڼه او پرسونل

د میدان آمریت ۲٦ نفره پرسونل لري، چي ۱۰ نفره یې مامورین، ۱۳ یې خدمتي اجیران او ۳ نفره یې اجیربالمقطع دي. د ذکرسوو ۱۰ نفرو مامورینو څخه یې ۵ نفره مسلکي او ۵ اداري دي، چي د الوتنو له شروع بیا ختم پوري همهلته وي.

## هغه کمپنۍ چي الوتني کوي

آریانا هوايي شرکت، پامیرهوايي شرکت، کام ایر هوايي شرکت، تیزر هوايي شرکت، د UNHASهوايي شرکت، برجر هوايي شرکت، هتلر هوايي شرکت، د CADG هوايي شرکت، د سره صلیب او یوناما هوايي شرکت.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# دوهم دکندهار ولایت ولسوالۍ

| # | د ولسوالۍ نوم | د ولسوالۍ مرکز | د ولسوالۍ درجه | مساحت په KM سره | د کليو شمېر | حاصلات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | سپين بولدک | بولدک | لومړۍ | ٧٧۴,۴٩۴٠١٥٥ | ٢٦٠ | |
| ٢ | پنجوايي | مارغر | لومړۍ | ٦٠٥٢,٠٩٨۴٥٢ | ١١٥ | |
| ٣ | ارغنداو | بابا صاحب | دوهمه | ٦٦٢,٥٧٨٣٩٠٩ | ٧٧ | |
| ۴ | ميوند | ميوند | دوهمه | ٣٠٥۴,٥٢٧٢٧۴ | ١٦٠ | |
| ٥ | شاه وليکوټ | وياند | دوهمه | ٢٩٩٩,٨٨٥۴٠٥ | ٢٨٧ | |
| ٦ | ارغستان | خوګياني | دوهمه | ٣٧۴٧,٨٥١١٣٨ | ٢۴٩ | |
| ٧ | معروف | کرنک | دوهمه | ٣٥١١,١٣٨٠٥٩ | ٢٨٧ | |
| ٨ | دامان | مهمند رباط | دوهمه | ۴٥٠٩,٨٦١۴٩١ | ١۴٣ | |
| ٩ | خاکريز | شاه اغا | دوهمه | ١٢۴٧,٠٣۴٨٦٦ | ١١۴ | |
| ١٠ | شورابک | ابزی | دوهمه | ۴١٣٢,۴٨٦٩٠١ | ٥٧ | |
| ١١ | ژړۍ | ژۍ | دوهمه | ٧٠٨,٩٩٦٥٠٨٢ | ١٣٣ | |
| ١٢ | غورک | چنار | دريیمه | ١٧٣٣,١٥٢٧٧٧ | ٥٠ | |
| ١٣ | ريګ | چهل دختران | دريیمه | ١٣٨١٩,٠٧١٠٥ | ٣٣ | |
| ١۴ | نيش | دينارخيل | دريیمه | ١٣۴٣,٩١٧١٣٨ | ٥١ | |
| ١٥ | ميانشين | شيخان | دريیمه | ٩٨٥,١٩٨١٠٨١ | ٥٨ | |
| ١٦ | ډنډ(موقت) | | دريیمه | | | |
| ١٧ | تخته پل(موقت) | | دريیمه | | | |
| | | | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ماخذونه

[1]. *Antoni Lacinai. (n.d.). 51 Body Language Gestures. .............www.lacinai.se .*

[2]. *Body language. (2019). Wikipedia, the free encyclopedia.*

[3]. *Gestures your body speaks (vol. 201). (2011). Toastmasters international.*

[4]. *Givens, D. B. (2002). The nonverbal dictionary of gestures, signs & body language cues. Washington: Spokane, Nonverbal Studies Press.*

[5]. *Noaimi, D. H. (2019). The Body Language. University of Bahrain: Vice President of Community .*

[6]. *ÖZÜORÇUN, F. (2013). The importance of body language. European university of lefke .*

[7]. *Patel, D. S. (2014). Body Language: An Effective Communication Tool. Gujarat India: IUP Journal of English Studies .*

[8]. *Pease, A. &. (2004). The Definitive Book of Body Language. Australia: Pease International.*

*(www.peaseinternational.com)*

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**